احمد شاه راشد ۲۰۱۹/۰۷/۳۰

# د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون اتلس کلن مزل لاسته راوړنې او نوې رهبري

جمهور رئیس محمد اشرف غني د روان لمریز کال د چنګاښ میاشتې په ۲۷ مه نېټه باندې د جلا فرمانونو له لارې شهر زاد اکبر د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د رئیسې او اسدالله یوسفي، بنفشه یعقوبي، محمد ایوب یوسفزی، سید احسان خلیق، شبنم صالحي، شکرالله مشکور، محمد نعیم نظري او راضیه صیاد د دې کمېسیون د نویو غړیو په توګه وټاکل.
دغه راز جمهور رئیس غني د جلا فرمان له لارې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون مخکېنۍ رئیسه سیما سمر د بشري حقونو او بین المللي اړیکو کې د جمهور رئیس د ځانګړې استازې او د دولت د وزیرې په توګه وټاکله. او د هغې د خدمتونو او کوښښونو د تقدیر او ستاینې په خاطر یې مېرمن سیما سمر ته د علامه سید جمال الدین افغان دولتي نښان ورکړ.

**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون:**
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د رامنځته کېدو نه موخه د افغانستان په سطحه د بشري حقونو د پراختیا او ملاتړ نه وه. دغه بنسټ په ۲۰۰۲ م میلادي کال کې د بن د کنفرانس د پرېکړه لیک او د افغانستان د جمهور رئیس حامد کرزي د فرمان پر اساس رامنځته شو، او وروسته د اساسي قانون د ۵۸ مې مادې د حکم له مخې، د افغانستان د دولت په چوکاټ کې د یوې خپلواکې اداري په توګه، فعالیت پیل وکړ.
چې د دې حکم په اساس هر څوک کولای شي د خپلو بشري حقونو د نقض کېدو په صورت کې دغه کمېسیون ته شکایت وکړي، کمېسیون کولای شي د افرادو د بشري حقونو د نقض موارد مربوطه قانوني ځانګو ته راجع کړي او د هغوی له حقونو څخه په دفاع کې مرسته وکړي د دې کمېسیون جوړښت، دندې او واکونه د ځانګړي قانون له مخې تعریف شول.
کمېسیون له نهه غړو چې په هغه کې به نارینه او ښځینه په خپله متناسبه اندازه برخه لري جوړ شوی دی چې هر یو یې د کمېشنر په نوم یادېږي او پنځو کلونو لپاره د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي. د کمېسیون رئیس د کمېسیون له غړو څخه دی چې د جمهور رئیس له لوري ټاکل کېږي.
د کمېسیون مرستیال هم د کمېسیون د غړو له منځه ټاکل کېږي، د کمېسیون د اجرائیوي څانګو په سر کې دارالانشاء قرار لري چې د اجرائیه ریاست له خوا رهبری کېږي او د کمېسیون ټولي اداري چارې او اجرائیوي فعالیتونه تنظیموي، د کمېسیون په جوړښت کې ګڼ شمېر کاري څانګې شتون لري چې د کمېسیون فعالیتونه سرته رسوي.
اوسمهال یاد کمېسیون د مرکزي دفتر سربېره په ۱۳ ولایتونو کې دفترونه لري چې د کارمندانو شمېر یې شاوخوا زرو کسانو رسیږي.

**د کمېسیون موخې:**
کمېسیون د لاندې پنځهګونو موخو په پار رامنځته شوی دی
- په هېواد کې د بشري حقونو په پام کې نیولو سره څارنه.
- د بشر د حقونو څخه ملاتړ.
- بشري حقونو او ازادیو ته د وګړو د لاسرسي له وضعیت او څرنګوالي څخه څارنه.
- د بشري حقونو د نقض د موارډو او سرغړونو څېړنه او تحقیق.
- په هېواد کې د بشري حقونو د وضعیت د ښه کولو او پرمختیا په منظور د تدبیرونو نیول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**په تېرو اتلس کلونو کې د کمېسیون لاسته راوړنې:**
د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په خپلو کلنیو راپوروننو کې چې په تېرو ۱۷ کلونو کې خپاره شوي دي د خپلو فعالیتونو راپورونه نشر کړي دي: په تېرو ۱۷ کلونو کې له ۵۰۰. ۰۰۰ (پنځه سوه زره) څخه ډېرو کسانو د بشري حقونو په برخه کې زدهکړې ورکړل شوې دي چې ۴۴ سلنه یې ښځینه ؤو تشکیلوله، د ښځو د حقونو په باره کې د عامه پوهاوي په پار رادیویي او تلویزیوني پروګرامونه جوړ شوي دي، د ښځو د پوهاوي په پار میاشتنۍ مجلې چاپ او وېشل شوي دي، همدارنګه په یادو راپورونو کې راغلي چې ډېرى خلکو د خپلو حقونو د اعادې په اساس یاد کمېسیون ته شکایت ثبت کړى دى چې د هغه شکایتونو ته د کمېسیون له لارې رسیدګي شوې، د کمېسیون د قانوني مداخلې له لارې شاوخوا ۵۰ شخصي زندانونه تړل شوي دي، د کمېسیون له لوري د تېر ۴۰ کلن ناورین د قربانیانو ۹۲ موارده ډلیز قبرونه پېژندل شوي او تر لومړنیو څېړونو او نیوکو لاندې نیول شوي دي، د کمېسیون له لوري د تحقیقي، موضوعي او څېړنیز رپوټونو څه د پاسه ۶۵ عنوانونه جوړ او خپاره شوي دي، په تېرو درېیو لسیزو کې د بشري حقونو د نقض مواردو او جنګي جرمونو په باره کې یوه ملي مشوره تر سره شوې ده، د جنسي تیري او ناموسي وژنو، د بچه بازۍ د دود، ترافیکي پېښو او هدفمندو وژونو په باره کې، د هېواد په کچه درې پراخې ملي څېړنې تر سره شوې، او د هغوى رپوټ هم خپور شوى دى. پور ته ذکر شوي کارونه چې کمېسیون په تېرو اتلسو کلونو کې تر سره کړي دي په نشت حساب دي ځکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون څه د پاسه ۱۸کلنه دوره کې، په هېواد کې د بشري حقونو د پراختیا ، ملاتړ او ترویج په برخه کې چې دوى یې د دې کمېسیون د تشکیل اساسي ټکي بولي هېڅ کومه لاسته راوړنه نلري او نه د دې کارونو د تر سراوي لپاره دوى په نېږدې کې کوم پلان لري.
یاد کمېسیون په تېرو اتلسو کلونو کې د یوې خاصې ډلې له لوري په ولکه کې ؤو، دا ډله په مستقیم ډول د بهرنیو مؤسساتو او سفارتونو له لوري حمایه کېدله چې ډېرى برخه بودجه د دې کمېسیون د یادو ډلو له لوري ورکول کېده یاد کمېسیون تر ۲۰۱۴ م کال پورې د افغانستان په ډېرى ولایتونو کې ولایتي دفتر درلودل او استخدام شویو کسانو ته په لوړه اندازه معاشونه ورکول کېدل، د استخدام شویو کسانو په ترکیب کې توازن نه دى رعایت شوى او اکثریت یې په هزاره توکم پورې اړوند ؤو.
دوى په تېرو اتلسو کلونو کې د ښځو د حقونو څخه د دفاع په پار او عامه پوهاوي په برخو کې سیمینارونه، ورکشاپونه او سمپوزیمونه جوړ کړي چې د دې کار تر شا هم د هغه چا لاس ؤو چې دې کمېسیون ته یې په مېلیونونو ډالر ورکړي دي هغه د دې کار نه خپلې موخې درلودې چې د دې موخو بېلګې موږ اوس په خپله ټولنه کې احساس کولاى شو دوى د دې لارې غوښتل، په افغانستان کې چې ۹۹ سلنه وګړي یې مسلمانان دي او یوه سنتي ټولنه ده د ښځو ګډ کار، ښځې باید خپل حق تر لاسه کړي او د اسلام نه غلط تعبیر چې د ښځو او نارینه ؤو حقوق مساوي دي دې او دېته ورته موضوعاتو لپاره دوى کار کړ همدا علت ؤو چې د دوى دفترونه هم د دولت د مخالفینو له لوري نظامي هدف وګرځول شول، د یادونې وړ ده چې کله طالبانو د کندز ښار په خپله ولکه کې راوست د طلوع نیوز د راپورونو په اساس چې طالبانو په کندز کې جنسي تیري تر سره کړي دي په دې کې یاد کمېسیون هم خپله پراخه ونډه درلوده د موضوع د څېړلو وروسته معلومه شوله چې داسې کار هېڅ صورت هم نه دى نیولى.
همدارنګه د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په تېرو اتلسو کلونو کې چې کوم جنایتونه او جرمونه د بهرنیو قوتونو له لوري تر سره شوي دي سترګې پټې کړې دي.
یاد کمېسیون تل د افغانستان د خلکو اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوى نه دى کړى د دې کمېسیون مشرې تل داسې څرګندونې کړلې چې د خلکو توندې نیوکې یې له ځان سره لرلې.

**د دې کمېسیون د پخوانۍ مشرې ژوند او کارونو ته کتنه:**
مېرمن سمر په ۱۹۵۶ م کال د غزني ولایت په جاغورى ولسوالۍ کې دنیا ته سترګې غړولې دي، په ۱۹۸۲م کال کې د کابل پوهنتون له طب پوهنځي نه فارغه او په خپل پلرني ټاټوبي کې یې د خلکو خدمت ته ملا وتړله، کله یې چې خاوند په افغانستان کې د حاکم پخواني کمونیستي رژیم لخوا په ۱۹۸۴ م کال کې ونیول شو نو دا له هغه وروسته پاکستان ته مهاجره او هلته یې هم د مېشن په روغتون کې په کار پیل وکړ خو له لږ مودې وروسته یې په ۱۹۸۹م کال کې په کوېټه کې د شهیدانو بنسټ په نامه انجو او د شهیدانو روغتیایي مرکز په نامه دوه بنسټونه تأسیس او مشري یې په غاړه واخستله چې د یادو مرکزونو تمویل د هغه چا لخوا کېده چې په اوس کې یې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون تمویل کولو او تر شا یې خپلې مشخصې برنامې او موخې درلودې چې د دې لارې یې پلې کولې.
کله چې په ۲۰۰۱ م کال کې د طالبانو امارت د امریکایانو لخوا سقوط شو، او په افغانستان کې د کرزي په مشرۍ مؤقته اداره رامنځته شوه نوموړې هم افغانستان ته راغله او د ښځو د چارو د وزیرې په توګه وټاکل شوه، چې د وزارت چارې یې شپږ میاشتې سمبال کړې له هغه وروسته په ۲۰۰۲ م کال کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د رامنځته کېدو سره یې مشري دېته ور په غاړه شوله، له ۱۸ کلن ریاست وروسته د جمهور رئیس محمد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اشرف غني د فرمان په اساس د بشري حقونو خپلواک کمېسیون نه لري او د ځانګړي فرمان په اساس د بشري حقونو او بین المللي اړیکو کې د جمهور رئیس د ځانګړي استازي او د دولت د وزیري په توګه وټاکل شوه.
آغلي سمر له لسو ډېر جایزې تر لاسه کړي همدارنګه براون پوهنتون چې په امریکا کې دی او د البرتا پوهنتون چې په کاناډا کې قرار لري آغلي سمر ته دوه افتخاري دکتوراوې ورکړې دي.
د دې کمېسیون رئیس او غړي د جمهور رئیس لخوا ټاکل کیږي په تېرو اتلسو کلونو کې درې ځلې آغلي سمر د جمهور رئیس د فرمان په اساس د دې کمېسیون د رئیسې په توګه ټاکل شوې

**نوې ټاکل شوې رئیسه څوک ده:**
شهر زاد اکبر په جوزجان ولایت کې زیږېدلې په قوم ازبکه ده او د طالبانو واکمنۍ پر مهال له کورنۍ سره پاکستان ته کډواله شوې وه، نوموړې په کډوالۍ کې د لومړنیو زده کړو له بشپړولو وروسته د امریکا له سمیت کالجه د ټولن پیژندنې په برخه کې لیسانس او د بریتانیا له اکسفورډ پوهنتونه د پرمختیا په برخه کې یې د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده‌کړې کړې دي.
په ټولنیزو چارو کې د ولسمشر غني لوړ پوړې سلاکارې په حیث یې کار کړی، او د ملکي خلکو خوندیتوب په برخه کې په دې وروستیو کې د ملي امنیت شورا مرستیاله ګومارل شوې وه. نوموړې د بي بي سي په ګډون یو شمېر رسنیو کې دندې هم تر سره کړې دي، د اسیا مرکز، ټاکنو د ناظر مرکز او پرانېستې ټولنې مرکز په ګډون یې د یو شمېر غیر دولتي ادارو مشرې کړې یا یې غړیتوب درلود.
نوموړې د' قره' په نوم یو څېړنیز مرکز هم تأسیس کړ او مشري یې هم خپله کوله. چې اوس‌مهال شهر زاد اکبر د سیما سمر پر ځای د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون د مشرې په حیث ټاکل شوې ده.

**د کمېسیون د نویو کمېشنرانو ژوند او کارونو ته کتنه:**
آغلي **بنفشه یعقوبي**؛ ۳۵ کاله عمر لري د لیسانس تر کچې پورې یې زده کړې په ایران کې تر سره کړې، او له څه وخت وروسته هېواد ته راستنه شوه او د کابل پوهنتون څخه یې په سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو کې دوه ماسترئ تر لاسه کړې، نوموړې ړنده ده او خاوند یې هم ایرانی او دی هم ړوند دی چې اوس یې د افغانستان تابعیت تر لاسه کړی او په کابل کې اوسیږي، نوموړې په کابل کې د راهیاب په نامه د نابینایانو لپاره روزنیز مرکز جوړ کړی، چې اوس مهال په دې روزنیز مرکز کې ۵۰ نابینایان د کمپیوټر او اداري چارو په زده کړه بوخت دي.
**راضیه صیاد:** نوموړې ۳۵ کاله عمر لري د ماسترئ تر کچې پورې یې کابل پوهنتون کې زده‌کړې کړې، نوموړې په نړیوالو ادارو او دولتي ادارو کې د کار اوږده مخینه لري. په قوم تاجکه ده.
**شبنم صالحي:** آغلي صالحي ۳۳ کاله عمر لري په قوم پښتنه ده، د ماسترئ تر کچې یې زده‌کړې کړې دي، اوس‌مهال کابل پوهنتون کې استاده ده، د غزني ولایت د ګېلان ولسوالۍ اصلي اوسېدونکې ده.
**سید احسان خلیق:** ښاغلی خلیق ۳۵ کاله عمر لري د ماسترئ تر کچې یې زده‌کړې کړې دي، په بشري حقونو په خپلواک کمېسیون کې ۴ کاله ټرېنر پاتې شوی، همدا ډول په دولتي ادارو کې یې هم کار کړی دی، نوموړی د هرات ولایت اوسېدونکی دی.
**محمد نعیم نظري:** ښاغلی نظري ۵۲ کاله عمر لري لیسانس تر کچې پورې یې زده‌کړې کړې دي، په نړیوالو ادارو او دولتي ادارو کې د کار اوږده مخینه لري د یادولو وړ ده چې نوموړی د ۲۰۱۸ م کال په پارلماني ټاکنو کې له کابل ولایت څخه مستقل نوماند وُ چې په یادو ټاکنو کې بریالی نشو.
**شکر الله مشکور:** مشکور په خټه پښتون دی ۳۰ کاله عمر لري، ماسترئ تر کچې یې زده‌کړې کړې دي نوموړی د ۲۰۱۸ م کال پارلماني ټاکنو ت د ننګرهار ولایت نه نوماند وُو، چې په ټاکنو کې بریالی نشو همدارنګه نوموړي د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او نورو انجوګانو کې دندې تر سره کړې دي.
**احمد ایوب یوسفزی:** یوسفزی ۵۰ کاله عمر لري په قوم پښتون دی ښاغلي یوسفزي د دکتورا تر کچې پورې زده کړې کړې، نوموړی د بلخ په پوهنتون کې استاد هم تېر شوی او همدارنګه په افغانستان کې د نړیوالو ادارو سره په لوړو پوستونو باندې د کار اوږده مخینه لري.
**اسدالله یوسفي:** یوسفي ۵۰ کاله عمر لري ماسترئ تر کچې پورې یې زده‌کړې کړې دي هزاره توکم پورې اړوند دی اوس‌مهال په کابل کې دیني مدرسه لري نوموړی د جمهور رئیس له دوهم معاون سرور دانش سره نېږدې اړیکې لري، په اصل کې د وردګو ولایت د مرکز بهسود ولسوالۍ اوسېدونکی دی.
په ټاکل شویو نهه کمېشنرانو کې څلور یې ښځې دي، په نویو ټاکل شویو کمېشنرانو کې د دې کمېسیون د رئیسې په شمول چې شمېر یې شپږو ته رسیږي عمرونه یې له ۳۰ تر ۳۵ کلونو پورې دي پاتې نور یې بیا د ۵۰ کلونو په شاوخوا کې عمرونه لري د دوی په ټاکنه کې قومي او ژبني تناسب په نظر کې نیول شوی دی، درې یې پښتانه، دوه یې هزاره، یو یې ازبک، یو یې تاجک د دوو نورو په اړه کره معلومات نشته چې په کوم توکم پورې اړه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدارنګه نوي ټاکل شوي کمېشنران د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده‌کړې لري د يادولو وړ ده چې د دې کمېسيون د رهبري لپاره کمېشنران د پنځو کلونو لپاره د جمهور رئيس له لوري ټاکل کيږي.

**له اوږد ځنډ وروسته نوي ټاکل شوي کمېشنران:**
د پخوانيو کمېشنرانو وخت د ۲۰۱۸ م کال په جون مياشت کې پوره شوی ؤو خو د ملي يووالي حکومت په دننه کې شته داخلي ستونزې د دې سبب شوې چې د دې کمېسيون چارې د ۱۳ مياشتو لپاره د سرپرستانو له لوري اداره کېدلې. بلاخره د روان لمريز کال د چنګاښ (سرطان) مياشتې په ۲۷ مه نېټه باندې د جمهوري رئيس د جلا فرمانونو په اساس دې کمېسيون ته نوې رئيسه او کمېشنران غوره شول.نوي کميشنران د ولسمشريزو ټاکنو د کمپاين د پيل نه يوازې لس ورځې وړاندې وټاکل شول. د دې؛ ټاکنو په اړه انديښنې راټوکېدلې دي، په ځانګړې توګه د ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماند کانديدان وايي چې جمهور رئيس محمد اشرف غني د خپل واک څخه ناوړه ګټه پورته کوي د ده د واک موده د روان لمريز کال د جوزا مياشتې په لومړۍ نېټه پای ته رسېدلې د قانون له مخې دی نشي کولای څوک لرې يا هم څوک وګماري. خو جمهوري رياست وياند بيا وايي چې د دوی د ټاکلو پروسه يو کال وړاندې پيل شوې وه اوس مهال کې نهايي شوله.

**پايله**
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون د هغه موضوعاتو په پار چې پورته يې يادونه وشوه اتلس کاله پخوا رامنځته شو، د هغه په اړه يې په هغه اندازه کارونه کړي چې هغه په نشت حساب دي او دا کمېسيون د سيمې او نړۍ د هغه هېوادونو لپاره چې هغې په افغانستان کې د خپلو شخصي موخو په خاطر څه غوښتل چې تر سره يې کړي نو د هغې لپاره مناسب ادرس ؤو او دې کمېسيون ته د همدغو ادارو لخوا فنډ او پلان ورکول کېدلو دوی هم د دې پلان د عملي کېدو لپاره کار کړلو د هغه موخې لپاره چې رامنځته شوی ؤو لاره بېله کړې وه.
يو علت چې د دې کمېسيون په رهبرۍ کې تغيرات نه راتلل، هغه دا ؤو چې د دوی تر شاه په پراخه کچه باندې بهرنی حمايت موجود ؤو.
وروسته له اتلسو کلونو د دې کمېسيون په رهبرۍ کې تغيرات راغلل د دې تغيراتو په راتلو سره اميدواري پيدا شوې چې نوي ټاکل شوي کمېشنران چې ډيرې يې ځوانان دي، ټولو لوړې زده‌کړې کړې او په دولتي او نړيوالو ادارو کې د کار اوږده مخينه لري نو د دې ذکر شويو عواملو په اساس به دوی وکولای شي چې دا ارګان د کومې موخې لپاره چې رامنځته شوی دی په هغه لوري روان کړي.
نوي کمېشنران بايد د دې کمېسيون لپاره خپل اوږد مهاله او لنډمهاله پلانونه جوړ کړي او مصارف چې د دې کمېسيون لخوا کيږي د هغه لپاره معلومه بودجه د حکومت له لوري ورته ځانګړې شي تر څو دوی وکولای شي چې په خپلو کارونو کې خپلواک رول اداء کړي او د خپلو کارونو راپور له ملت سره شريک کړي تر څو هغه تور او شک چې په دې کمېسيون باندې دی هغه لمنځه لاړ شي.

پای

(احمدشاه راشد- د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز څېړونکی)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ